هفته واره رساله

د المدينة العلميه د کتاب "اسلامی مہینوں کے فضائل" نه تياره کړے شوې رساله

په نُوم

# د ورځو فيضان



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

# د ورځو فيضان [برکات] [1]

دُعائے عطّار: يا **الله** پاکه! ځوک چې دا رساله ”د ورځو فيضان(برکات) “ ولولي يا واوري هغه د برکتي ورځو په برکت په خپلو خوښو بندګانو کښې شامل کړې او هغه د مور پلار سره بے حسابه جَنَّت الفردوس ته داخل کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ځوک چې په ما باندې يو ځل درودِ پاک ولولي **الله** پاک په هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي او ځوک چې په ما باندې 10 کرته دُرُودِ پاک ولولي **الله** پاک په هغهٔ باندې 100 رحمتونه نازلوي او ځوک چې په ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي **الله** پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي. (معجم اوسط، 252/5، حديث:7235)

يانبی! تجھ پہ لاکھوں دُرُود و سلام اِس پہ ہے ناز مجھ کو ہوں تیرا غلام
اپنی رَحمت سے تُو شاہِ خیرُ الْاَنام مجھ سے عاصی کا بھی ناز بَردار ہے

(وسائلِ بخشش، ص 481)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

[1] ... دا مضمون د مکتبة المدينه د کتاب ”اِسلامی مہینوں کے فضائل“ صفحه 293 نه 320 پورې اخستے شوے دے.

# جُـمعةُ الـمبارک

جُـمعةُ الـمبارک د عظمت، برکت او ثواب په لحاظ سره اِمتيازي مقام لري، په قرآنِ کريم کښې په دې نوم يو مکمل سُورت دے په کوم کښې چې د جُمعې د نـمونځ ذِکر هم شته . په دې ورځ ټول مخلوقات په وجود کښې مُجتَمَع (يعنې يو ځائے) شوې چې د مخلوقاتو تـکميل په دې ورځ شوے، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خاوره هم په دې ورځ راجمع کړے شوې، په دې ورځ باندې خلق راجمع شي او د جُمعې نـمونځ ادا کوي، په دې وجه دې ته جُمعه وئيلے شي. د اِسلام نه مخکښې به عربو دې ته "عَرُوبه" وئيله. (مراٰةالمَنَاجيح،317/2)

دې مبارکې ورځې ته ډير تاريخي نِسبتونه او ډير خاصيتونه حاصل دي مثلاً ❁ اللّٰه پاک د جُمعې په ورځ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيدا کړے، په دې ورځ يـې زمکې ته راکوز کړے او هُم په دې ورځ يـې وفات کړے ❁ د جُمعې يو ساعت داسې دے چې بنده هُغه وخت د کوم څيز سوال اوکړي، اللّٰه پاک يـې هغهٔ ته عطا کوي تر څو چې د حرامو سوال اونـکړي. ❁ په دې ورځ باندې به قيامت وي. يوه مقربه فرښته، اسمان او زمکه، هوا، غر او درياب داسې نشته چې د جُمعې د ورځې نه نهٔ ويريږي. (ابنِ ماجه، 8/2، حديث:1084 ملتقطاً) ❁ د دې مقدسو هستيانو نـکاح د جُمعې په ورځ شوې :

﴿1﴾ د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نـکاح د حضرت حوا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ﴿2﴾ د حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت زُليخا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ﴿3﴾ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د صفورا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ﴿4﴾ د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت بِلقيس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ﴿5﴾ د حضرت مُحَمَّد مصطفےٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت بي بي خديـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا او د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ﴿6﴾ د مسلمانانو د څلورم خليفه، حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نـکاح د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړهٔ د ټوټې حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره.

(کتاب السبعيات في مواعظ البريات، ص96 فضائل الايام و الشهور، ص185) ❁ دا مبارکه ورځ د مسلمانانو اختر وګرځولے شوه. (سننِ کبریٰ للبيهقي، 447/1، حديث:1427 ماخوذاً) ❁ جُمعې ته سَيِّدُ الاَيَّام (يعني د ورځو سرداره) فرمائيلے شوې ده. (مستدرک، 567/1، حديث: 1065 ماخوذاً) ❁ په جُـمعةُ الـمبارک کښې د نيکو ثواب زياتولے کيږي. (معجم اوسط، 33/6، حديث:7895) په دې ورځ د دوزخ دروازې نهٔ برسيره کولے شي ، هُم نهٔ دا دوزخ لَـمبه کولے شي . ❁ انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام او مور او پلار ته د هرې جُمعې په ورځ اعمال نامې پيش کړے کيږي. (نوادر الاصول، 213/4، حديث:924 ملتقطاً) ❁ په دې ورځ باندې مسلمانان د جُمعې نـمونځ ادا کوي.

## د جُـمعةُ الـمبارک ورځ څنګه تيرول پکار دي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د جُمعې د شان او د عظمت په باره کښې تاسو پوهه شوئ ، د دې مبارکې ورځې د مبارکو ساعتونو د تيرولو د پاره هم زمونږه پوره راهنمائي شوې ده، راځئ چې ولولو:

## د جُمعې د ورځې روژه

د جُمعې د ورځې روژه په جَنَّت واجِبوونکو اعمالو کښې ده، د نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د جُمعې نـمونځ اوکړو، په هٔغه ورځ يـې روژه ونيوله، د يو مريض تپوس يـې اوکړو، يوې جنازې ته حاضر شو او په يوه نکاح کښې يـې شرکت اوکړو نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شو. (معجم کبير، 97/8، حديث:7484)

## صرف د جُمعې د ورځې روژه نيول څنګ دي؟

په خصوصيت سره صرف د جُمعې يا صرف د خيالي د ورځې روژه نيول مکروهِ تنزيهي دي. آؤ که په څهٔ خاص تاريخ د جُمعې يا د خيالي ورځ راغله نو مکروه نهٔ ده. مثلاً 15 شعبان شريف، 27 رَجَب شريف وغيره د جُمعې په ورځ راغلے نو اوس د دې تاريخونو په وجه صرف د جُمعې په ورځ روژه ونيولے شوه نو هيڅ باک پکښې نشته. د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې

ورځ ستاسو د پاره اختر دے، په دې ورځ روژه مه نيسئ خو دا چې د دې نه مخکښې يا وروستو هم روژه ونيسئ. (الترغيب والترهيب، 81/2، حديث:11)

## د لس زره کالو د روژو ثواب

اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جُمعې د ورځې روژه يعنې چې کله د دې سره د زيارت يا د خيالي د ورځې روژه هم شامله وي، مروي دي چې د لس زره کالو د روژو برابر ده. (فتاویٰ رضويه، 653/10)

## د جُمعې د ورځې اَعمال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د جُمعې د شپې او د جُمعې د ورځې اَعمال ذِکر کيږي، دا هم ولولئ:

## ﴿1﴾ د جُمعې د شپې 4 اَعمال

✿ د جُمعې په شپه د ماښام د نـمونځ نه پس په دې حديث کښې د بيان کړے شوې طريقې مطابق دوه رکعته نـمونځ ادا کوونکے به د مرګ د تکليف او د قبر د عذاب نه محفوظ وي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د جُمعې په شپه د ماښام د نـمونځ نه پس دوه رکعته داسې ادا کړي چې په هر رکعت کښې يو ځل سورۀ فاتحه، 15 کرته سورۀ زِلزَال ولولي نو الله پاک به په هغۀ باندې د ځنکدن سختنه اسانه کړي، هغه به د قبر د عذاب نه محفوظ ساتي او د قيامت په ورځ به په پل صِراط باندې تيريدل د هغۀ د پاره اسان کړي.

(اللمعة في خصائص الجمعة، ص113)

✿ سورۀ يٰس ولولئ او د بخښنې حقدار جوړې شئ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د جُمعې په شپه (يعنې د زيارت او د جُمعې په ترمينځه شپه) سورۀ يٰس ولولي هغه به وبخښلے شي.

(الترغيب والترهيب، 298/1، حديث:4)

❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم مؤمِن چې د جُمعې په شپه دوه رکعته داسې اوکړي چې په هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس 25 کرته سورۀ اِخلاص ولولي بيا دا دُرُودِ پاک "صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الاُمِّيِّ" زر [1000] کرته ولولي نو د راتلونکې جُمعې نه مخکښې به په خوب کښې زما زيارت کوي او چا چې زما زيارت اوکړو الله پاک به د هغۀ ګناهونه معاف کړي.
(القول البديع، ص383)

❁ اِمام زُهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې د جُمعې په شپه غسل اوکړي او دوه رکعته داسې ادا کړي چې په هغې کښې زر [1000] کرته سورۀ اِخلاص ولولي نو د هغۀ به په خوب کښې د نبي اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شي.
(تاريخ ابنِ عساکر، 301/9، رقم: 816)

## ﴿2﴾ د جُمعې د ورځې 5 اَعمال

❁ نوکان کټ کړئ، داسې کول د شِفا حاصلولو سبب دے، په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د جُمعې په ورځ نوکان کټ کوي الله پاک د هغۀ نه بيماري لرې کوي او شِفا ورکوي. (مصنف عبد الرزاق، 93/3، حديث: 5325) ياد ساتئ چې د جُمعې په ورځ باندې نوکان کټ کول مُستحب دي، آؤ! که ډير غټ شوي وي نو د جُمعې د ورځې اِنتظار مۀ کوئ ځکه چې د نوکانو غټيدل په رزق کښې د کمي سبب دے.
(بهار شريعت، 582/1، حصه 4)

❁ د جُمعې په ورځ غسل اوکړئ او خوشبوئي ولګوئ ولې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې د جُمعې په ورځ غسل اوکړي او د خپل وس مطابق صفائي اوکړي بيا تيل او په کور کښې موجوده خوشبوئي ولګوي بيا د نـمونځ د پاره ووځي او په دوو کسانو کښې جدائي پيدا نۀ کړي (داسې چې نۀ د خلقو په اوګو واوړي او نۀ د ملګرو په اخوا کولو د هغوئي په مينځ کښې کښيني بلکې چرته چې ځائے ميلاؤ شي هلته کښيني) او کوم نـمونځ چې د هغۀ د پاره ليکلے شوے دے هغه اوکړي او

چې کله اِمام خطبه لولي نو خاموشه شي نو د هغهٔ د دې جُمعې او د بلې جُمعې ترمينځه ګناهونه بخښلے کيږي. (بخاری،306/1، حديث:883)

❁ د جُمعې پهٔ ورځ ښې جامې واغوندئ ولې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د جُمعې پهٔ ورځ غسل اوکړو او ښې جامې يې واغوستلې بيا که د هغهٔ سره خوشبوئي وه نو هغه يې ولګوله، بيا د جُمعې [د نمونځ] د پاره پهٔ سکون او عزت سره روان شو او د چا پهٔ اوګو وا نهٔ وړيدو او نهٔ يې چا ته تکليف ورسولو بيا يې نمونځ ادا کړو او د اِمام واپس ګرځيدو پورې يې انتظار اوکړو نو د هغهٔ د دوو جُمعو ترمينځه ګناهونه به بخښلے کيږي. (مجمع الزوائد،385/2، حديث:3039. معجم کبير،160/4، حديث:4006)

❁ شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نقل کړي دي: څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ زر [1000] کرته دا دُرُود شريف " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمۡ" ولولي نو پهٔ خوب کښې به د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت اوکړي يا به پهٔ جَنَّت کښې خپل منزل ووينې. که پهٔ وړومبي ځل يې مقصد پوره نشي نو پهٔ بله جُمعه دې هم ولولي، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د 5 جُمعو پورې به خوشحالوونکے خوب ووينې.
(جذب القلوب، ص242 ماخوذاً)

❁ که مور پلار د دُنيا نه رخصت شوي وي نو د هغوئي د قبر زيات اوکړئ ولې چې (د مور او پلار د قبر د) زيارت افضل وخت د جُمعې پهٔ ورځ د سحر د نمونځ نه پس وخت دے. (فتاویٰ رضويه، 523/9)

## ﴿3﴾ د جُمعې نمونځ د عمامې سره ادا کړئ

د جُمعةُ المبارک پهٔ ورځ باندې عمامه شريف(پټکے) پهٔ سر کول سُنَّت مبارک دي او د دې پهٔ برکت **الله** پاک اجر او ثواب هم څو چنده زياتوي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د عمامې(پټکي) سره يوه جُمعه بغير د عمامې نه د 70 جُمعو برابر ده.

(جامع صغير، ص314، حديث:5101 مختصراً. تاريخ ابنِ عساكر، 355/37، رقم:4399)

د جُمعې پهٔ ورځ د عمامې شريف پهٔ سر کولو سره د جُمعې پهٔ نـمونځ کوونکو باندې **اللّٰه** پاک او د هغهٔ فرښتے درود راليږي، د **اللّٰه** پاک نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بے شکه **اللّٰه** پاک او د هغهٔ فرښتے د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ عمامه(پټکي) پهٔ سر کوونکو باندې درود راليږي.

(مجمع الزوائد، 394/2، حديث:3075، کنز العمال، جز 7، 302/4، حديث:21162)

حضرت علامه اِبنِ حَجَر عَسقَلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د **اللّٰه** پاک د درود ليږلو مطلب رحمت نازلول او د فرښتو د درود ليږلو مطلب اِستغفار کول دي.

(فتح الباری لابن حجر، 131/12، تحت الحديث:6358)

## ﴿4﴾ د جُمعې د نـمونځ نه پس دا دُعا لولئ

شارحِ بُخاري حضرت علامه احمد بن محمد قَسطَلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (وفات: 923ھ)، د حضرت اِمام عبدُ الله يافِعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (وفات: 968ھ) قول نقل کوي چې د جُمعې د نـمونځ نه پس دا دُعا کول پکار ده: اَللّٰهُمَّ يَا ذَا الْمَنِّ وَلَا يُمَنُّ عَلَيْكَ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَ الْاِكْرَامِ، يَا ذَا الطَّوْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ظَهْرُ اللَّاجِئِيْنَ وَجَارُ الْمُسْتَجِيْرِيْنَ وَ مَأْمَنُ الْخَائِفِيْنَ اِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنِيْ شَقِيًّا اَوْ مَحْرُوْمًا اَوْ مُقَتَّرًا عَلَيَّ فِي الرِّزْقِ فَامْحُ شَقَاوَتِيْ وَحِرْمَانِيْ وَاقْتِتَارَ رِزْقِيْ وَاَثْبِتْنِيْ عِنْدَكَ سَعِيْدًا مَّرْزُوْقًا مُّوَفَّقًا لِّلْخَيْرَاتِ، فَاِنَّكَ قُلْتَ فِيْ كِتَابِكَ الْعَزِيْزِ الْمُنَزَّلِ عَلٰى نَبِيِّكَ الْمُرْسَلِ ﴿يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَ يُثْبِتُ ۚۖ وَعِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ۝۳۹﴾ (پ13، الرعد:39)

(الارشاد و التطريز، ص44 لوامع الانوار فی الادعية و الاذکار، ص261 بالفاظ متقاربة)

## ﴿5﴾ د جُمعې د ورځې نور اعمال

❁ حضور نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ ما باندې 80 کرته درودِ پاک ولولي **اللّٰه** پاک به د هغهٔ د 80 کالو ګناهونه معاف کړي. عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پهٔ تاسو باندې څنګه درود اووئيو؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: داسې وايئ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ

الْاُمِّيِّ يعني اے **اللّٰه** پاک ه! په خپل خاص بنده، په خپل نبي او خپل رسول نبي اُمي حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې رحمت نازل کړې. (احياء العلوم، 1/251 ملخصاً) ❀ د مدينے سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: په روښانه شپه او پړقيدونکې ورځ يعني د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې ډير دُرُودِ پاک لولئ.

(معجم اوسط، 1/84، حديث:241)

❀ د سورۀ کَهف تِلاوت کوئ چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د جُمعې په ورځ سوره کَهف لولي د هغۀ او د بَيتِ عتيق (خانه کعبې) ترمينځه يو نُور روښانه کولے شي. (شعب الايمان، 2/474، حديث:2444) ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې په ورځ په ما باندې ډير درودِ پاک لولئ ځکه چې دا يومِ مَشهود (د حاضرۍ ورځ) ده، په دې ورځ باندې فرښتے حاضريږي او څوک چې په ما باندې دُرُودِ پاک لولي د هغۀ د درودِ پاک د فارغيدو نه مخکښې د هغۀ درودِ پاک ما ته رارسي. (ابنِ ماجه، 2/291، حديث:1637) ❀ نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې د جُمعې په ورځ جامع مسجد ته داخِل شي او د جُمعې د نـمونځ نه مخکښې څلور رکعته نـمونځ اوکړي، په هر رکعت کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه (سورۀ فاتحه) او 50 کرته قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد (ټول سورت) ولولي هغه به د وفات کيدو نه مخکښې په جَنَّت کښې خپل ځائے ووينې يا به ورته د هغۀ ځائے وښودلے شي. (احياء العلوم، 1/267) ❀ که چا ته څۀ سختيه يا حاجت راپيښ شي نو د شروع، زيارت او د جُمعې په ورځ دې پرله پسې درې روژې ونيسي او د جُمعې د نـمونځ د پاره دې غسل اوکړي او د جُمعې د پاره دې لاړ شي او څۀ خيرات دې هم اوکړي بيا دې د جُمعې د نـمونځ نه پس دا دُعا اوکړي او د خپل مقصد د پاره دې د زړۀ په لګولو او په ژړا ژړا دُعا اوکړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د هغۀ دُعا به ضرور قبليږي.

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاِسْمِكَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ وَاَسْئَلُكَ بِاِسْمِكَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَیُّ الْقَيُّوْمُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ اَلَّذِیْ مَلَئَتْ عَظَمَتُهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَسْئَلُكَ بِاِسْمِكَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ**

الرَّحِيْم ط اَلَّذِیْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَعَنَتْ لَهُ الْوُجُوْهُ وَخَشَعَتْ لَهُ الْاَصْوَاتُ وَوَجِلَتِ الْقُلُوْبُ مِنْ خَشْيَتِهٖ اَنْ تُصَلِّیَ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنْ تُعْطِيَنِیْ مَسْئَلَتِیْ وَتَقْضِیَ حَاجَتِیْ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْن. د حَاجَتِیْ لفظ نه پس د خپل ضرورت نوم ذکر کړئ . (جنتی زیور، ص578 بتغیر)

## خيالي

د خيالي ورځ هم ډيره د برکت او د عظمت والا ده. د خيالي ورځ ته پهٔ تاريخي لحاظ سره ډير نسبتونه حاصل دي ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جنګِ بدر د پاره د 3500 مهاجرو او انصار صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره د خيالي پهٔ ورځ د مدينے منورې نه روان شو. (فیضانِ فاروق اعظم، 474/1 ملخصاً) ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر خيالي پهٔ ورځ کله پهٔ سورلۍ او کله پيدل قُبا ته تشريف وړلو. (مسلم، ص555، حدیث:3396)
❁ الله پاک د خيالي پهٔ ورځ د زمکې اصل پيدا کړے. (مسلم، ص1149، حدیث:7054)
❁ الله پاک د خيالي پهٔ ورځ د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د قوم پهٔ 70 زره کسانو د مهي ښکار حرام کړے وو. (عجائب القرآن مع غرائب القرآن، ص34 ماخوذاً) ❁ پهٔ قرآنِ کښې د يومِ سَبت يعني د خيالي ذِکر پهٔ 7 ځايونو کښې راغلے دے. (فضائل الایام والشهور، ص240)

## د خيالي ورځ څنګه تيرول پکار دي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دِينِ اِسلام چې څنګه هره ورځ پهٔ نيکو کښې د تيرولو د پاره زمونږه رهنمائي کړې ده دغه شان يې د خيالي ورځ هم پهٔ نيکو کښې د تيرولو د پاره يو څو اعمال ښودلي دي پهٔ کومو باندې چې د عمل کولو پهٔ برکت زمونږه دا ورځ هم د خير او برکت والا جوړيدے شي.

## د خيالي د ورځې روژه

د دې ورځې پهٔ معمولاتو کښې دي چې پهٔ دې ورځ دې روژه ونيولے شي، د حضرت بي بي اُمِّ سَلمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د

خيالي او د اِتوار روژه اکثر نيوله او فرمائيل به يــې: دا دواړه (خيالي او اِتوار) د مشرکانو د اختر ورځې دي او زۀ غواړم چې د هغوئي مخالفت اوکړم.
(صحیح ابنِ خزیمه، 3/318، حدیث: 2167)

د خيالي د ورځې د روژې نيولو د ترغيب سره سره د دې ورځې د روژې د نيولو نه منع هم فرمائيلے شوې ده، حضرت عبدُ الله بن بُسر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپلې خور نه روايت کوي چې رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د خيالي د ورځې روژه د فرض روژو نه علاوه مۀ نيسئ. (ترمذی، 2/186، حدیث: 744 ملخصاً)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديث پۀ شرح کښې فرمائي: نفلي روژه صرف د خيالي پۀ ورځ مۀ نيسئ ځکه چې پۀ دې کښې د يهوديانو سره مشابهت دے چې هغوئي اکر که پۀ دې ورځ باندې روژه خو نۀ نيسي خو د دې ډير تعظيم کوي، ستاسو پۀ دې روژه کښې به د هغوئي اِشتِباه کيږي. د جمهور علمائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم قول دا دے چې دا منع هم تنزيهي ده. که د خيالي سره (بله يوه) ورځ (مثلاً د اِتوار يا د جُمعې) روژه هم ونيولے شي نو نۀ به مشابهت پاتې شي او نۀ منع. (مراٰۃ المناجیح، 3/192 بتغیرٍ)

# د خيالي د ورځې اَعمال

## ﴿1﴾ د خيالي د ورځې برکتي سحر

پۀ ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت کښې دي: عرض: حضور يوه اِستِغاثه وړاندې کول دي (يعني پۀ عدالت کښې درخواست ورکول دي)، دې د پاره کومه ورځ مناسب ده؟ ارشاد: دې د پاره څۀ خاص ورځ مقرر نۀ ده البته پۀ حديث شريف کښې اِرشاد دے څوک چې د څۀ حاجت د پاره د خيالي پۀ ورځ سحر د نمر راختو نه مخکښې د خپل کور نه ووځي نو د هغۀ د حاجت روايي (يعني د حاجت د پوره کيدو) زۀ ضامِن (يعني ذمه وار) يم. (مسند الفردوس، 3/519، حدیث: 5620. ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 116)

## ﴿2﴾ د سَیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ طريقه

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د هر خيالي پهٔ ورځ د مدينے منورې بره حصې ته تشريف وړلو، که حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به هلته څوک غلام پهٔ داسې کار کولو والا ليدلو پهٔ کوم به چې د هغهٔ وَس نهٔ رسيدو نو حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د هغهٔ مدد کولو. (احياء العلوم، 275/2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم پهٔ دې ورځ باندې د غريبانو او د کمزورو خلقو مدد کول پکار دي چې داسې به د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ طريقه باندې هم عمل اوشي.

## اِتوار

اتوار د عظمت او برکت والا ورځ ده، اتوار ته ډير تاريخي نِسبتونه او خاصيتونه حاصل دي مثلاً ❀ الله پاک د اتوار پهٔ ورځ درې قِسمه ستورې جوړ کړې ❀ دا 7 قِسمه سمندرونه يـې هم پهٔ دې ورځ جوړ کړې: ﴿1﴾ طَبَرِستان ﴿2﴾ بَحرِ گرمان ﴿3﴾ بَحرِ قُلْزُم ﴿4﴾ بَحرِ هِند ﴿5﴾ بَحرِ عُمان ﴿6﴾ بَحرِ رُوم ﴿7﴾ بَحرِ مَغرب ❀ پهٔ دې ورځ الله پاک وور، 7 زمکې، د اِنسان سره د هغهٔ د سجدې اندامونه يعنې دواړه لاسونه ښپې، زنګونان او مخ جوړ کړے او 7 واړه ورځې يـې پيدا کړې. (کتاب السبعيات فی مواعظ البريات، ص3626 ملتقطاً فضائل الايام و الشهور، ص26 تا 33 ملتقطاً) ❀ د اتوار پهٔ ورځ کرونده کول، وَنې نالول او کور جوړول د برکت سبب دے. (فضائل الايام و الشهور، ص25)

## د اِتوار ورځ څنګه تيرول پکار دي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ اوسنی زمانه کښې پهٔ ډيرو ملکونو او لوئي ښارونو کښې د اتوار پهٔ ورځ د ډيرو چټې وي د کوم له وجهې چې د شپې د ناوخته اودهٔ کيدو او د اتوار پهٔ ورځ د ناوخته راپاڅيدو رواج دے داسې خلق هم شته کوم چې پهٔ کوڅو پهٔ محلو يا پهٔ کور کښې ټوله ټوله شپه پهٔ ويخه پهٔ فضول خبرو کښې پهٔ

وخت بربادولو تيروي او ځينې خلق په قِسما قِسم ګناهونو کښې مشغول اوسي. که دا ورځ مونږ د **اللّٰه** پاک په عبادت، د قرآنِ پاک په تلاوت او د ډير ذِکر او دُرود په وئيلو تيره کړو نو د دې په برکت به زمونږه په اعمال نامه کښې د نيکو ذخيره جمع شي. د چټې د دې ورځې نه فائده واخلئ او زر راپاڅئ او د تهجدو نـمونځ ادا کړئ او بيا د جومات په وړومبي صف کښې د سحر نـمونځ د جَمعې سره ادا کړئ او د اِشراق او د څاښت د نـمونځ ادا کولو د پاره د نمر د راختو پورې په ذِکر او دُرُود کښې مشغول اوسئ د دې ډير فضيلت دے، په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره اوکړي بيا کښيني او د **اللّٰه** پاک ذِکر کوي، د دې پورې چې نمر راوچت شي بيا دوه رکعته اوکړي نو د هغهٔ به د پوره حج او د عمرې ثواب کيږي. (ترمذی،2/100، حديث:586) د دې ورځې د ښې شروع سره د فرضو او د واجبو ادا کولو نه علاوه ټوله ورځ په نيکو کښې مشغول اوسئ اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې به مو ډير برکتونه نصيب شي. د دې ورځې په باره کښې د حديثونو مبارکو او د بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْهِم د اقوالو په رڼا کښې يو څو نفلونه او وظيفې اولولئ او په هغې باندې د عمل کولو کوشش اوکړئ.

## د اِتوار د ورځې روژه

که ممکنه وي نو په دې ورځ روژه ونيسئ ولې چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خيالي او د اِتوار د ورځې روژه اکثر نيوله او فرمائيل به يې: دا دواړه (خيالي او اتوار) د مشرکانو د اختر ورځې دي او زهٔ غواړم چې د هغوئي مخالفت اوکړم. (صحيح ابنِ خزيمه،3/318، حديث:2167)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د خيالي ورځ د يهوديانو اختر دے او د اتوار ورځ د عيسائيانو، په دې کښې هغوئي ښه ډير خوراک څښاک او مزې کوي مونږ د هغوئي په مخالفت کښې روژه ونيوله. (مرآۃ المناجيح،3/194)

# د اتوار د ورځې اَعمال

## ﴾1﴿ د حاجت پوره کيدو دوه اَعمال

✿ حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د اِتوار په ورځ په کثرت سره د **اللّٰه** پاک وحدانيت بيانوئ ځکه چې **اللّٰه** پاک واحِد دے، د هغۀ ځوک شريک نشته. بس چا چې د اتوار په ورځ د ماسپښين د نـمونځ د فرضو نه او سُنَّتو نه پس 4 رکعته نـمونځ اوکړو، په وړومبي رکعت کښې يـې سورۀ فاتحه او تَنزِيلُ السَّجده (سوره سجده) ولوستله، په دويم کښې يـې سورۀ فاتحه او سورۀ ملک ولوستو بيا يـې تَشَهُّد ولوستو او سلام يـې وګرځولو او بيا د اخري دوو رکعتونو د پاره ودريدو او د سورۀ فاتحه او سورۀ جُمعه تِلاوت يـې اوکړو او د **اللّٰه** پاک نه يـې خپل حاجت وغوښتو نو د **اللّٰه** پاک په ذِمۀ کرم باندې دي چې د هغۀ حاجت پوره کړي. (احياء العلوم، 1/266)

✿ کوم ضرورت مند چې د اتوار په ورځ د نمر راختو په وخت 10 کرته سورۀ کافِرون ولولي د هغۀ کار به وشي. (جنتی زیور، ص604)

## د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سره جَنَّت ته داخليدل

د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ نه روايت دے: ځوک چې د اتوار په ورځ 20 رکعته نـمونځ اوکړي، په هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس پنځوس (50) کرته سورۀ اِخلاص (قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد) او يو يو ځل مُعَوَّذَتَين (سورۀ فلق او ناس) ولولي بيا سل (100) کرته اِستِغفار اوکړي بيا د ځان د پاره او د مور پلار د پاره سل (100) کرته د بخښنې دُعا اوکړي، سل (100) کرته په نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک ولولي، د خپل طاقت او قوت نه د بَراءَت اِظهار اوکړي او د **اللّٰه** پاک پناه وغواړي بيا ووائي: "اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ أَنَّ آدَمَ صَفْوَةُ اللّٰهِ وَفِطْرَتُه وَ اِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلُ اللّٰهِ وَمُوْسٰى كَلِيْمُ اللّٰهِ وَعِيْسٰى رُوْحُ اللّٰهِ وَمُحَمَّدًا حَبِيْبُ اللّٰهِ يعنې زۀ ګواهي ورکووم چې د **اللّٰه** پاک نه علاوه هيڅ معبود نشته هغه يواځې دے د هغه هيڅ شريک نشته او زۀ ګواهي ورکووم

چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام صَفِيُّ الله دے او **الله** پاک هغه پهٔ خپل دَستِ قُدرت سره جوړ کړے دے. حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام خليلُ الله، حضرت موسىٰ عَلَیْہِ السَّلَام كليمُ الله، حضرت عيسىٰ عَلَیْہِ السَّلَام روحُ الله او حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حبيبُ الله دے." نو د هغهٔ د پاره د **الله** پاک نه د اولاد د دُعا د غوښتونکو د شميرې برابر ثواب دے. د قيامت پهٔ ورځ به **الله** پاک هغه د امن والؤ سره راپاخوي او د **الله** پاک پهٔ ذِمهٔ کرم باندې ده چې هغه د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام سره جَنَّت ته داخِل کړي.
(مفتاح السعادة، ص727)

## ګل شريف

د ګل شريف د ورځې د عظمت او برکت نه د ځان خبرولو د پاره د دې يو څو تاريخي نسبتونو او خاصيتونو ته وګورئ: ❁ حضرت اِدريس عَلَیْہِ السَّلَام د ګل شريف پهٔ ورځ د اسمان طرف ته بوتللے شو او هغوئي جَنَّت ته داخِل شو. ❁ حضرت موسىٰ عَلَیْہِ السَّلَام د ګل شريف پهٔ ورځ کوهِ طور ته تشريف يوړلو. ❁ د ګل شريف پهٔ ورځ حضرت جبرئيل عَلَیْہِ السَّلَام د حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا له پهٔ وړومبي ځل تشريف راوړلو. ❁ د اُمَّت اعمال هم د ګل شريف پهٔ ورځ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې وړاندې کولے کيږي. (کتاب السبعيات فی مواعظ البريات، ص42 ملتقطاً فضائل الايام و الشهور، ص47) ❁ د ګل شريف ورځ ته د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذات مبارک نه او د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دور مبارک نه خصوصي برکتونه ميلاؤ شوي دي مثلاً ﴿1﴾ حضور نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګل شريف پهٔ ورځ دُنيا ته تشريف راوړلو او هُم د ګل شريف پهٔ ورځ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نبوت ظاهر شو ﴿2﴾ د ګل شريف پهٔ ورځ يې د مکے مکرمې نه هجرت وفرمائيلو ﴿3﴾ د ګل شريف پهٔ ورځ باندې مدينے منورې ته داخِل شو ﴿4﴾ د ګل شريف پهٔ ورځ باندې يې د دې فاني دُنيا نه رحلت وفرمائيلو

﴿5﴾ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حجرِ اَسود هُم د ګل شريف په ورځ باندې ولګولو. (مسند احمد، 1/594، حديث:2506 بتقدم وتاخر) د يو روايت مطابق په بدر کښې فتح هم د ګل شريف په ورځ نصيب شوې وه او هُم د ګل شريف په ورځ باندې سورۀ مائِده نازل شوے وو. (معجم کبير،12/183، حديث:12984ملخصاً)

## د ګل شريف ورځ څنګه تيرول پکار دي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ګل شريف ورځې ته زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نسبت په وجه ډير شرف حاصل دے څکه دا ورځ داسې تيره کړئ:

## د ګل شريف روژه

که ممکنه وي نو د ګل شريف روژه ونيسئ ولې چې د ګل شريف د ورځې روژه نيول سُنَّت ده لکه څنګه چې حضرت اَبو قَتاده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د ګل د ورځې په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو اِرشاد وفرمائيلے شو: په دې ورځ زما ولادت شوے او په دې ورځ په ما باندې وحي نازله شوے. (مسلم، ص455، حديث:2750)

## د ګل شريف د ورځې اعمال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ګل شريف د ورځې په باره کښې يو څو اعمال وړاندې کولے کيږي:

## ټول ګناهونه معاف

❁ په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د ګل په ورځ د نمر راوچتيدو په وخت دوه رکعتونه ادا کړي په هر رکعت کښې يو ځل سوره فاتحه، يو ځل آيةُ الـکُرسي، يو ځل سورۀ اِخلاص (قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد) او يو يو ځل مُعَوَّذَتَين (سورۀ فلق او ناس) ولولي، بيا سلام وګرځوي او لس کرته اِستِغفار ووائي او لس کرته په ما باندې دُرُودِ پاک

ولولي نو **الله** پاک به د هغهٔ ټول ګناهونه معاف کړي. (احياء العلوم، 266/1) ❁ څوک چې د ګل په شپه څلور رکعته نـمونځ اوکړي، په وړومبي رکعت کښې يو ځل سورهٔ فاتحه او 10 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ولولي، په دويم رکعت کښې يو ځل سورهٔ فاتحه او 20 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ولولي، په دريم رکعت کښې يو ځل سورهٔ فاتحه او 30 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ولولي، په څلورم رکعت کښې يو ځل سورهٔ فاتحه او 40 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ولولي بيا سلام وګرځوي او 75 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ولولي، بيا د ځان او د خپل مور پلار د پاره 75 کرته اِستِغفار اوکړي بيا د **الله** پاک نه خپل حاجت وغواړي نو د **الله** پاک پهٔ ذمهٔ کرم باندې دي چې د هغهٔ حاجت پوره کړي. (احياء العلوم، 268/1) ❁ څوک چې دوه رکعته نـمونځ اوکړي، پهٔ هر رکعت کښې 15 کرته سورهٔ فاتحه، 15 کرته قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد او 15، 15 کرته مُعَوَّذَتَين (يعنې سوره فلق او ناس) ولولي او د سلام ګرځولو نه پس 15 کرته آية الـکرسي ولولي او د **الله** پاک نه اِستِغفار اوکړي نو د هغهٔ د پاره عظيم ثواب او لوئي اَجر دے. (اتحاف السادة المتقين، 630/3)

## د نهې ورځ

د نهې ورځ هم مبارکه ده، دې ورځې ته پهٔ تاريخي لحاظ سره ډېر نسبتونه حاصل دي مثلاً ❁ پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک خپل خوږ نبي حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام ته شِفا عطا کړې وه. (مستدرک، 298/5، حديث: 7556 ملخصاً) ❁ پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د بَيتُ المُقَدَّس نه د کعبې شريفې طرف ته د مخ اړولو او نـمونځ کولو حکم اوکړو. (صحيح ابنِ حبان، 108/3، حديث: 1713) ❁ پهٔ دې ورځ باندې سورهٔ الحَديد نازل شوے او پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک اوسپنه پيدا کړې . (مجمع الزوائد، 154/5، حديث: 8331) ❁ پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک غرونه او پهٔ دې کښې موجود فائده رسوونکي څيزونه پيدا کړي. (مستدرك، 409/3، حديث: 4050) ❁ پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک دوزخ پيدا کړے او پهٔ دې ورځ باندې **الله** پاک ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د اولاد پهٔ روحونو باندې مقرر کړے. (فيض القدير، 63/1، تحت الحديث: 8)

## د نهې ورځ ښنګه تیرول پکار دي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د نهې د ورځې په باره کښې خو تاسو ته پته لګیدلې ده، د دې مبارکې ورځ د تیرو لو تفصیل دا دے:

## د نهې د ورځې روژه

حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په یوه میاشت کښې د خیالي، اِتوار او د ګل او په بله میاشت کښې د نهې، شروع او د زیارت روژې نیولې. (ترمذی،2/186، حدیث:746)

## د نهې په ورځ کپړه مهٔ کټ کوئ

د نهې په ورځ د نوې کپړې د کټ کولو نه بچ کیدل پکار دي. شیخ عبد الحق محدث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قول لیکي او فرمائي چې څوک چې د نهې په ورځ کپړه کټ کړي نو هُغه کپړه به پټیږي یا به په اوبو کښې ډوبیږي یا به هغه وور سیزي. (کشف الالتباس، ص54)

**نوټ:** کله چې څوک نوې جامې اغوندي نو 10 کرته دې سورت " اِنَّا اَنزَلنٰهُ" ولولي او په اوبو باندې دې یــې دم کړي او په هغې باندې دې ترمکیا کړي چې برکت به پکښې وي. (کشف الالتباس، ص54)

## شروع [چارشنبه]

د شروع [چارشنبې] ورځ هم ډیر اِمتیازي خاصیتونه لري او دې ورځې ته هم په تاریخي لحاظ سره ډیر نسبتونه حاصل دي مثلاً ✿ د شروع په ورځ الله پاک 7 کافران په 7 څیزونو سره هلاک کړل: ﴿1﴾ عَوج بن عُنُق د دهٔعمر چې څلور نیم زره (4500) کاله او قد د تولو نه غټ وو، د مُلا چرچَک مرغیٔ په ذریعه ﴿2﴾ قارون د خَسف (په زمکه کښې د ننباسولو) په ذریعه ﴿3﴾ فرعون او د هغه لښکر د دریاب په ذریعه ﴿4﴾ نمرود مَلعُون د ماشي په ذریعه ﴿5﴾قومِ لوط د کنکر کانو په ذریعه

﴿6﴾ شَدّاد بن عاد د حضرت جبرئيل پۀ اواز سره او ﴿7﴾قومِ عاد د تيزې سيلۍ پۀ ذريعه. (کتاب السبعيات فی مواعظ البريات، ص71 فضائل الايام و الشهور، ص117)

✿ د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چا چې د شروع يا د خيالي پۀ ورځ حجامه اوکړه بيا هغه پۀ خپل وجود کښې برګے ووينې نو هغه دې خپل ځان ملامته کوي. (جامع صغير، ص508، حديث:8328)

حضرت علامه عبدُ الرَّوف مُناوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ (وفات: 1031ھ) فرمائي: اِمام ابو جعفر نيشاپوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ما يوه ورځ ووئيل چې دا حديث صحيح نۀ دے او د شروع پۀ ورځ مې حجامه اوکړه نو زما برګے (مرض) شو. بيا ما پۀ خوب کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيارت کولو سعادت حاصل کړو نو ما نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د دې مرض شکايت اوکړو نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تۀ زما د حديث د اِهانَت نه ځان ساته (يعنې تا زما د حديث مخالفت اوکړو ځکه پۀ دې مرض کښې اخته شوې). (فيض القدير، 45/6، تحت الحديث:8328) ✿ بزرګانِ دِين رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د درس مجلس د شروع پۀ ورځ کولو، ځکه چې عِلم نُور دے نو د دې شروع هُم د نُور پۀ ورځ کول مناسب دي. (فضائل الايام و الشهور، ص115)

## د شروع ورځ څنګه تيرول پکار دي؟

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! د شروع د ورځې د نسبتونو او د اِمتيازي خاصيتونو نه د خبريدو نه پس پۀ دې ورځ کښې د کيدونکو يو څو منتخبو اعمالو تفصيل ولولئ:

## د شروع د ورځې روژه

حضرت مسلم قُرشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روايت کوي چې ما د حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ټول عمر د روژو نيولو پۀ باره کښې پوښتنه اوکړه نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ستا د کور والوو هم پۀ تا باندې حق دے، د رمضان روژې نيسه او د دې

نه د وروستنۍ مياشتې او د هرې شروع او د زيارت روژې نيسه ګويا تا چې د ټول عمر روژې هم ونيولې او روژه ماتے دې هم اوکړو. (ترمذی،2/187،حدیث:748)

# د شروع د ورځې اَعمال

## ﴿1﴾ د قيامته پورې ثواب

څوک چې د شروع په شپه دوه رکعته نـمونځ اوکړي، په وړومبي رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس لس کرته سورۀ فلق (قُل اَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَق) ولولي، په دويم سورت کښې د سورۀ فاتحه نه پس لس کرته سورۀ ناس (قُل اَعُوذ بِرَبِّ النَّاس) ولولي نو د هر اسمان نه به 70 زره فرښتے نازلې شي کومې به چې د قيامته پورې د دې ثواب ليکي. (مفتاح السعادۃ، ص728)

## ﴿1﴾ د شروع په ورځ د نوکانو د کټ کولو مسئله

د شروع په ورځ نوکان نۀ دي کټ کول پکار چې د برګي مرض راتللو انديښنه ده البته که د يو کم څلويښتو (39) ورځو نه نۀ وي کټ کړے شوي، نن د شروع په ورځ څلويښتمه ورځ ده که نن کټ نۀ کړے شي نو د څلويښتو ورځو نه به زياتې شي نو په دۀ باندې به واجب وي چې هم نن يې کټ کړي ځکه چې د څلويښتو ورځو نه زيات نوکان ساتل جائز نۀ دي او مکروهِ تحريمي دي. (د تفصيلي معلوماتو د پاره فتاویٰ رضويه، جلد:22، صفحه574، 685 وګورئ) (بڈھا پجاری، ص32)

د اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه نه داسې پوښتنه اوکړے شوه چې په يو حديث کښې د شروع په ورځ د نوکانو کټ کولو نه منع راغلې ده او په بَل حديث کښې د شروع په ورځ د نوکانو کټ کولو فضيلت راغلے دے، په دې دواړو روايتونو کښې د تطبيق [يعني يو شان کولو] يا ترجيح [يعني د غوره ګڼلو] څۀ شکل دے او د شروع په ورځ به نوکان کټ کول څنګه وي؟ د دې په جواب کښې اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: " د نوکانو د کټ کولو په باره کښې

په يوه ورځ هم منع نشته، ځکه چې د ورځې په ټاکنه کښې هيڅ يو صحيح حديث ثابت نۀ دے، البته په بعضې ضعيفو حديثونو کښې د شروع په ورځ د نوکانو د کټ کولو نه منع شته، لهذا که د شروع ورځ د واجبِ کيدو ورځ راشي مثلاً د 39 ورځو نه يـې نۀ وي کټ کړي، نن د شروع په ورځ څلويښتمه ورځ ده، که نن يـې نۀ کټ کوي نو د څلويښتو ورځو نه به زياتې شي نو په هغۀ باندې به واجب وي چې د شروع په ورځ يـې کټ کړي، ځکه چې د څلويښتو ورځو نه زيات نوکان ساتل ناجائزه او مکروهِ تحريمي دي او که ذِکر کړے شوے حالت نۀ وي نو د شروع نه علاوه په بله ورځ کټ کول مناسب دي چې د منعې اړخ غوره ګڼلے کيږي.
(فتاوی رضويه، 685/22 ملخصاً)

## نوے کار دې د شروع په ورځ شروع کړے شي

که څۀ نوے کار شروع کول وي نو د هغې د پاره هم د شروع ورځ د برکت والا ده. په حديثِ پاک کښې دي: مَابُدِئَ بِشَیْءٍ یَوْمَ الْاَرْبَعَاءِ اِلَّا تَمَّ يعنې څۀ داسې عمل نشته کوم چې د شروع په ورځ شروع کړے شوے وي او هغه مکمل شوے نۀ وي. (کشف الخفاء، 163/2، تحت الحديث: 2189) د اُمت جليلُ القدر علمائے کرامو به د درس او تدريس په معامله کښې هم په دې حديث باندې عمل کولو. لکه څنګه چې د استاذ شيخُ الاِسلام بُرهانُ الدين (صاحب د هدايه) رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عادت وو چې هغوئي به سبق هُم د شروع په ورځ شروع کولو او په دې خبره باندې به يـې د يو حديث په روايت کولو اِستدلال کولو چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څۀ داسې عمل نشته کوم چې د شروع په ورځ شروع کړے شوے وي او هغه مکمل شوے نۀ وي. د سبق شروع کولو دا طريقه د اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم وه او هغوئي دا حديث د خپل اُستاذ شيخ قوام الدين احمد بن عبدُ الرشيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت کوي او ما د يو څو اعتمادي خلقو نه اوريدلي دي چې شيخ ابو يوسف هَمداني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هر نيک کار د شروع په ورځ شروع کولو. د شروع ورځې ته څۀ خاصيت داسې

هم حاصل دے چې د شروع ورځ ھغه ورځ ده په کومه کښې چې **الله** پاک نُور پیدا کړو او داسې دا ورځ د کافرانو په حق کښې سپیرهٔ او د مؤمِنانو په حق کښې مبارکه ثابتیږي. (تعلیم المتعلم، ص7372)

## د دُعا د قبلیدو زیرے

د حضرت جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې حضورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګل، نهې او د شروع درې ورځې دعا اوکړه، د شروع په ورځ د دوارو نـمونځونو ماسپښین او د مازیګر ترمینځه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا ته د قبلیدو سعادت عطا شو او په نُوراني مخ یـې د خوشحالۍ نخښې ښکاره شوې. حضرت جابر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بیا چې کله هم ما ته څهٔ اهمه او تـکـلیف رسوونـکـې معامله راپیښه شوه ما د دې وخت انتظار اوکړو او هُم په دې وخت کښې مې د **الله** پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه نو ما قبولیت ولیدو. (شعب الایمان، 397/3، حدیث:3874)

## زیارت

د زیارت ورځ ډیره د برکت والا ده ځکه چې په دې کښې د برکت د پاره پخپله نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خصوصي دُعا په کولو اِرشاد فرمائي: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِاُمَّتِیْ فِیْ بُکُوْرِهَا یَوْمَ خَمِیْسِهَا یعني اے الله! زما د اُمت د زیارت په سحر کښې برکت کیږدې.
(مسند بزار، 448/11، حدیث:5312)

دې ورځې ته په تاریخي لحاظ سره ډیر نسبتونه حاصل دي مثلاً ❁ حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د زیارت په ورځ د مصر د بادشاه خوا له تشریف یوړلو او هلته یـې بي بي هاجره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا وموندله. ❁ د زیارت په ورځ د حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام وروڼه د هغوئي دربار ته حاضر شول او نعمت یـې بیاموندو. ❁ د حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام سَکه ورور بِنیامین مصر ته داخِل شو نو حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام یـې بیاموندو. ❁حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام چې مصر ته داخل شو نو امن یـې بیاموندو. ❁ اِمامُ

الانبیا حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم چې مکے مکرمې ته داخِل شو نو فتح او نصرت یــې بیاموندو. (کتاب السبعیات فی مواعظ البریات، ص 84 ملتقطاً. فضائل الایام و الشهور، ص 144142 بتغیر)

✿ زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به د زیارت پهٔ ورځ سفر خوښولو لکه څنګه چې د حضرت ګعب بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به د غزوه د پاره د زیارت پهٔ ورځ تلل خوښول. (بخاری، 296/2، حدیث:2950)

علامه محمد عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 1031ھ) لیکلي دي: د زیارت ورځ ډیره د برکت والا ورځ ده خاص طور د حاجت د غوښتنې او د سفر د شروع کولو د پاره. حضرت صَخر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به د زیارت پهٔ ورځ د سفر د پاره روانیدو نو ډیر مالداره شو. (فیض القدیر، 133/2، تحت الحدیث:1458) نور فرمائي: د عِلم د حاصلولو د پاره سحر وختي کیناستل مُستَحب دي او د عِلم شروع کول یعنې د یو دِیني کتاب شروع کول د زیارت پهٔ ورځ خاص طور سحر وختي ډیر بهتر دي. اګر چې بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم عِلم د شروع پهٔ ورځ شروع کړے دے ځکه چې شروع د نُور ورځ ده او عِلم هم نُور دے خو د زیارت پهٔ ورځ باندې عِلم شروع کول د برکت سبب دے. بعضې جامعِ عِلم و ولایت وصیت فرمائي چې تالیف او قراءت د ګل او زیارت پهٔ ورځ شروع کول پکار دي. (فیض القدیر، 23/2، تحت الحدیث:1214 ملتقطاً فضائل الایام و الشهور، ص141)

## د زیارت ورځ څنګه تیرول پکار دي؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د زیارت د ورځې پهٔ باره کښې تاسو پوهه شوئ، د دې مبارکې ورځې د مبارکو ساعتونو پهٔ عبادت کښې د تیرولو د پاره تفصیل دا دے:

## د زیارت د ورځې روژه


که ممکنه وي نو پهٔ دې ورځ روژه ونیسئ چې دا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، حضرت اُسامه بن زید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ! کله چې

تاسو روژې نيسئ نو داسې ښکاري چې تاسو به روژه ماتے نۀ کوئ (يعنې پرله پسې به روژې نيسئ) او کله چې تاسو روژې نۀ نيسئ نو داسې ښکاري چې د دوو ورځو نه علاوه به چرې هم روژې نۀ نيسئ او دوه ورځې داسې دي که ستاسو د روژو ترمينځه راشي نو ټيک ګڼې نو تاسو خاص طور پۀ دې ورځو کښې روژې ضرور نيسئ. اوئې فرمائيل: هغه کومې ورځې دي؟ ما عرض اوکړو: د ګل او د زيارت. اوئې فرمائيل: دا هُغه ورځې دي پۀ کومو کښې چې د رَبُّ العالمِين پۀ بارګاه کښې اعمال پيش کيږي ځکه زۀ خوښووم چې زما اعمال د روژې پۀ حالت کښې پيش کړے شي. (نسائی، ص387، حدیث:2355)

## دُرُودِ پاک ډير لولئ

د دې ورځې د نورو برکتونو حاصلولو د پاره د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې ډير زيات درود او سلام وړاندې کوئ چې پۀ حديثِ پاک کښې دي: کله چې د زيارت ورځ راځي الله پاک فرښتے راليږي د کومو سره چې د سپينو زرو کاغذونه او د سرو زرو قلمونه وي هغوئي ليکي چې څوک د زيارت پۀ ورځ او د جُمعې پۀ شپه پۀ ما باندې ډير دُرُودِ پاک لولي. (کنزالعمال، جز1، 250/1، حدیث:2174)

د راروانې هفتې رساله




فیضان مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92    0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net